# د افغانستان د خوړو خوندیتوب او بسیاینې سیستماتیکه ارزونه: مدیریتي او ستراتیژیک لید

**پوهنمل دکتور لطف الله صافی**

د طبیعي زېرمو مدیریت ډیپارټمنټ، د چاپیریال پوهنې پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان.
برېښلیک: lutfullahsafi7@gmail.com

**لنډیز**

افغانستان یو بې وزله هیواد دی چې له اوښدې مودې د خوړو له کمښت سره مخ و. په دې څېړنه کې د افغانستان د خوړو خوندیتوب وضعیت ارزول شوی دی. موندنې ښیي چې د غنمو غلې او اوړو واردات په ۲۰۰۲ کې په سلو کې ۲۶,۲ و او تر ۲۰۲۰ پورې ۳۱,۶ سلنې ته لوړ شو، همدارنګه کورني تولیدات په منځي ډول په کلني کچه ۶,۴ سلنه وده یی کړې ده. په ټولیزه توګه د غلو دانو د وارداتو د ودې منځنۍ کلنۍ کچه ۴,۷ سلنه وه چې ګړندی بلل کېږي. د غلو دانو کورني تولید د خوړو ځان بسیاینې شاخص په مناسبه کچه کې ساتلې، د غنمو ځان بسیاینې کچه له ۵۸,۱۴ څخه په ۲۰۰۱ کال کې ۸۳,۲۵ سلنې ته په ۲۰۱۲ کال لوړه شوې او وروستیو کلونو کې لوېدلې. د ځان بسیاینې ترلاسه کولو او د خوړو خوندیتوب پیاوړتیا لپاره کورني تولید هڅول اړینه ستراتیژي ګڼل کېږي.

**کلیدي اصطلاحات:** افغانستان؛ د خوړو خوندیتوب؛ د خوړو ځان بسیاینه؛ کورني تولیدات؛ واردات

# Systematic Evaluation of Afghanistan's National Food Security and Self-sufficiency: Managerial and Strategic Perspectives

**Assistant Prof. Lutfullah Safi (Ph.D.)**

Department of Natural Resources Management, Faculty of Environmental Science, Kabul University, Kabul, Afghanistan
E-mail: lutfullahsafi7@gmail.com

ABSTRUCT

Afghanistan is a poor country that has struggled with food insecurity for many years. This study examines the current state of food security in Afghanistan. The results indicate that the share of wheat grain and flour imports in total consumption was 26.2 percent in 2002 and rose to 31.6 percent by 2020, while domestic production increased by 6.4 percent per year. The average annual growth rate of grain imports was 4.7 percent, which is relatively high. However, domestic grain production has maintained a moderate level of food self-sufficiency; the self-sufficiency ratio of wheat improved from 58.14 percent in 2001 to 83.25 percent in 2012. Promoting domestic production is seen as an essential strategy to achieve self-reliance and robust food security.

**Keywords:** Afghanistan; Food Security; Food Self-Sufficiency; Domestic Production; Imports

**سريزه**

د خوړو خونديتوب مفهوم خورا پراخ دی چې د بيولوژيکي، اقتصادي، ټولنيزو، کرنيزو او فزيکي فکتورونو د تعامل له لارې ټاکل کيږي. بېلابېلو سازمانونو خوړو خونديتوب يې په مختلفو ډولونو تعريف کړی. د خوړو خونديتوب يو داسې حالت دی چې کله ټول خلك هر وخت کې فزيکي، ټولنيز او اقتصادي کافي، خوندي او مغذي خوړو ته لاسرسی ولري چې د فعال او سالم ژوند لپاره د دوی د خوړو اړتياوې پوره کوي. يا په بل ډول د لږ تر لږه انرژۍ د پوره کولو لپاره کورنيو کافي خوړو ته لاسرسی ولري چې د فعال او سالم ژوند لپاره اړين دي (١). د خوړو نه خونديتوب تل د دې پېړۍ يو له مهمو ننګونو څخه دی، په تېره د افغانستان په څېر مخ پر ودې هيوادونو کې، البته، ټول هېوادونه د خوړو د خونديتوب له ستونزې سره لاس او ګرېوان دي، خو په پرمختللو هېوادونو کې د خوړو د خونديتوب شدت د مخ پر ودې هېوادونو او درېمې نړۍ هيوادنو په پرتله کم دی(٢). د ټولو وګړو د خوړو خونديتوب برابروالی لپاره په لويه کچه د خوراکي توکو کافي عرضه او عادلانه ويش ته اړتيا لري (٣). د خوړو خونديتوب يو څو سکتوريزه او څو اړخيزه مفکوره ده او د دوامدار پرمختګ د نورو نويو مفکورو په څېر بېلابېل ټولنيز او اقتصادي اړخونه لري او تل د پرمختګ په لومړنيو شرطونو کې راځی او د سياستوالو او واکمنو له مهمو انديښنو څخه ده(١). د خوړو خونديتوب يوازې د معياري اړتياو پوره کولو په معنی نه ده، بلکې د يو هيواد دننه جوړښتونو پراختيا او ثبات معنی هم لري چې ټولنه په بدو شرايطو کې د معياري کچې خوړو ته لاسرسی ولری او د ټولنې ټينګښت يی ثابت پاتې شي(۴). د اقليم بدلون او وچکالۍ او د اوبو کمښت، د نفوس چټکه وده، د کرنې په سکتور کې د توليد کموالی، د خوړو د خونديتوب په اړه د اوږدمهاله پاليسيو نشتوالی، زيربناوو او بنسټيزو خدمتونو ته محدود لاسرسی، کورنۍ جګړې، د اقتصادي چاپېريال بې ثباتي شامل دي(۵). د حکومتونو ناوړه تګلارو او په دې وروستيو کې د محصولاتو او خوراکي توکو په بيو کې د سختو بدلونونو له امله د نړۍ ډېرې برخې د خوراکي توکو له ناامنۍ او له اوږدې خوارځواکۍ سره مخ دي(٦). د ميکانيزې کرنې کمزورتيا، د زېرمتونونو او سړو خونو د صنايعو د ظرفيت کموالی، د اقليم اغيزې، د چاپيريال ويجاړتيا، په کرنيز سکتور کې د پانګونې کموالی، وچکالۍ او سيلابونه، د ځمکې تخريب، د اوبو د سرچينو کمښت او د نفوس زياتوالی، بې وزلي او د خوراکي توکو د بيو لوړوالی، د اقليم بدلون او وچکالۍ، آفتونه او ناروغۍ هغه مهم عوامل دي چې د خوړخونديتوب يې په ځانګړې توګه په افغانستان له ننګونو سره مخ کړی دی(٢). همدارنګه په افغانستان کې کمزوري حکومتونه، ضعيفې پاليسۍ، د ټکنالوژۍ نشتوالی، جنګ او شخړه نور مهم عوامل دي چې د خوړو خونديتوب ګواښي، جګړه او ناامني د خوړو خونديتوب ته زيان رسوي. جګړه د بې وزلۍ، بېکارۍ او د خوړو د نه خونديتوب اصلي لامل کېږي(٧). د نفوس زياتوالي يو بل مهم فکتور دی چې د خوړو پرخونديتوب اغيزه کوي. د نړيوال بانك د راپوروونو له مخې د افغانستان نفوس به کلني ډول ٣ سلنه زياتېږ.

د افغانستان د نفوس په پرله پسې زياتوالي سره، د خوړو اړتيا په چټکۍ سره مخ په زياتيدو ده(۸). د نفوس ګړندۍ وده د کرنې اکمالاتي پر سيستم فشار راوړي چې د کرنيزو ځمکو د مساحت تناسب لوړيږي د دې لامل هم کيږي چې د کرنيزو ځمکو کارول د استوګنې او سوداګرۍ لپاره بدل شي د خوړو خونديتوب له خطر سره مخامخ کړي.

په هرصورت، په افغانستان کې، د خوړو خونديتوب يوه پيچلې ټولنيزه-سياسي مسله ده، ځکه چې د نفوس زياتوالي د خوراکي توکو د مصرف لا ډېرو خوړوته اړتيا ده په دې حال کې چې د هيواد کورني توليدات د خوړو اړتياوې نه پوره کوي. له بلې خوا، جګړې او ناکرارۍ بې وزلو خلکو لپاره خوراکي توکو ته لاسرسی ستونزمن کوي(۹). راپورونه او اسناد په افغانستان کې د خوراکي توکو د خونديتوب په برخه کې ناسم وضعيت په ګوته کوي، چې له امله يې د دې هيواد نيمايي څخه ډېر خلک کافي خوراکي توکو ته لاسرسی نه لري. د د خوړو نړيوال پروګرام (WFP) د راپورونو له مخې ۱۹,۹ مليون خلک د خورا شديد يا مضمن د خوراکي توکو ناامني سره مخ دي او د ورځ تر بلې د ډېريدو په حال کې ده(۱۰) (۱۱).

**د څېړنې موخې**

د دې څېړنې موخې داسې دي:

د دې څېړنې موخې دا ده چې افغانستان کې د خوړوخونديتوب کومو فکټورونه څخه اغېزمن شوی؟

افغانستان د غلو دانو کورني توليدات څومره دي؟ دا هيواد څومره د غلو دانو په وارداتو متکي ده؟

او خوړو ځان بسيا ينې وضعيت يې څنګه دی؟

**د څېړنې مېتود**

په دې څېړنه کې د افغانستان د خوړو خونديتوب د بيولوژيکي، اقتصادي، ټولنيزو، کرنيزو او فزيکي فکتورونو په پام کې نيولو سره څېړل شوی دی. لومړی د خوړوخونديتوب عناصر(ستنې) پېژندل شوي دې تر څو د خوړ خونديتوب پراخ مفهوم باندې پوهه رامنځ ته شي او اهميت يې ښکاره شي.

دافغانستان خوراکي توکو اصلي ټولګه کې غنم، وربشې، جوار، غوښه، شيدې او د شيدو محصولات او هګۍ شاملې دي. په همدا شان مهم خوراکي نباتاتو کې غنم، جوار، وريجې، وربشې، سابه، مېوې او مغز شامل دي. د شته خوراکي توکو له جملې څخه ډوډۍ له ډېر پخوا راهيسې د افغان کورنيو د خوراکي توکو په ټولګې کې اړين خواړه ګڼل کيږي. د همدې اصل په پام کې نيولو سره د عمده خوراکي نباتاتو کې غنم، جوار، وريجې او وربشې په دې څېړنه کې سپړل شوي دي او د افغانستان غلو دانو کورنې توليدات، واردات، د خوړو ځان بسيا ينې وضعيت او د خوراکي توکو مرستې په مفصله ټوګه څېړل شوي دي. د ځان بسياينې تناسب يا نرخ په مرسته ځان بسيا ينې کچه په غنم، جوار، وريجې او وربشو کې ټاکل شوې ده. او د دې لپاره چې اوسنی روان وضعيت د خوړخونديتوب په برخه کې روښانه شي خوراکی

توکو مرستې چې د نړیوالو سازمانو له خوا برابرېږي لیکل شوي دي. په دې څېړنه کې کارول شوي ارقام او معلومات د ملګرو ملتونو د خوړو او زراعت سازمان(FAO) څخه تر لاسه شوي دی. په دې څېړنه کې کمي او کیفي مېتودونو څخه په ګډه کار اخیستل شوی.

د خوړ خوندیتوب عناصر(ستنې)

پراخې مطالعې او نظري پایلې او څېړنې ښیي چې د خوړو خوندیتوب لاندې څلور اصلي اړخونه لري:

**۱. د خوړو شتون (Food Availability)**


د خوړو شتون هغه وخت ترلاسه کیږي کله چې د ټولنې ټولو غړو لپاره کافي اندازه خواړه په اوږدې مودې شتون ولري. دا ډول خواړه د کورنیو تولیداتو، محلي تولیداتو، وارداتو یا خوراکي مرستو له لارې ترلاسه کیدی شي، دا عنصر د خوراکي توکو د تولید، وېش او تبادلې (د خوراکي توکو د مرستې په ګډون) او د ملکیت په ګډون د مختلفو لاملو له لارې د خوراکي توکو د عرضې او شتون په عواملو پورې اړه لري. د ځمکې او کښت مدیریت، د څارویو پالنه، اوبو او انرژۍ کارولو د خوړو تولید همدې برخې ته تړلری دی(۱).

**۲. خوړو ته لاسرسی (Access)**

خوړو ته لاس رسی، سرچینو ته د فزیکي او اقتصادي لاسرسي، د ټولنې د اړتیا وړ خوراکي توکو چمتو کول دي، دا لاسرسی هغه وخت ممکن دی چې کورنۍ او د وګړو د مناسب غذا لپاره کافي سرچینې ولري. له همدې امله، خوړو ته لاسرسی د کورنۍ عاید، د کورنۍ د غړو ترمنځ د عاید وېش، د خوراکي توکو بیې او داسې نور لاملونو پورې اړه لري. کورنۍ اقتصادي لاسرسی ولري چې د دوی عاید یا لګښتونه د مالي فشار پرته او په تلپاتې توګه د کافي خوراکي توکو چمتو کولو او پیرودلو وس ولری. خوړو ته لاس رسی چې اقتصادي لاسرسی هم بلل کېږی د نورو فکتورونو لکه د عاید کچه او د پیرودلو ځواک سره اغیزمن کیږي(۱).

**۳. د خوړو کارول(Utilisation)**

د خوراکي توکو د کارونې موخه د خوراکي توکو په سمه توګه پروسس کولو، د خوراکي توکو د زېرمو کولو، د ماشومانو د تغذیې په اړه د پوهیدو او پاملرنې لپاره کافي پوهه او د روغتیایی خدماتو کارول دي. په حقیقت کې، د خوړو د خوندیتوب په دې اړخ کې، د کورنۍ پوهې، ذخیره کولو، پروسس کولو چارو، د خوړو چمتو کولو، د تغذیې اصولو او د ماشوم پاملرنې باندې ډیر ټینګار کیږي(۱).




لومړی انځور: د خوړو خوندیتوب مهم عناصر یا ستنې(۱)

**۴. ثابتوالی(Stability)**

د خوړو ثبات د خوړو د خوندیتوب څلورمه برخه ده، چې د نورو دریو ابعادو څخه اخیستل کیږي. ثبات په هر وخت کې د خوړو خوندیتوب حالت ته اشاره کوي. د ټول کال په اوږدو کې د مناسب مقدار خوراکي توکو د ترلاسه کولو او په اوږدمهال توګه کارولو وړتیا را څرګندوي. دا برخه د وخت په تیریدو سره او پرته له کمي پیښېدو د بدن لخوا اړین غذایي موادو ترلاسه کولو ته اشاره کوي. د وخت په تیریدو سره، دا کیدای شي د چاپیریال د ګواښونو یا بشري فکتورونو لکه د جګړې او بازار بې ثباتی له امله د خوړو په مصرف باندې لویه اغیزه ونلري. د خوراکي توکو یو باثباته سیستم باید تنظیم شي ترڅو د اړتیاوو د ثابت ساتلو وړتیا ټینګه وستال شي(۱).

**د خوړو خوندیتوب ارزښت په افغانستان کې**

د خوړو خوندیتوب ټینګښت د بشري پراختیا لپاره یو اړین شرط بلل کیږي، او په دې توګه د تولید او اقتصادي ودې په برخه کې یوه لاسته راوړنه ده. د خوړو خوندیتوب د یوې پرمختللې ټولنې بنسټ او د هغې د وګړو فکري، رواني او فزیکي روغتیا اساسي عنصر ګڼل کیږي (۱۲). تلپاتې پرمختګ د ټولنیزو او اقتصادي شاخصونو د یوې ټولګې په واسطه اندازه کیږي، چې تر ټولو مهم یې د ټولنې د خوړو او تغذیې وضعیت پورې اړوند شاخص دی، او د خوړو خوندیتوب یې یو له مهمو اړخونو څخه دی (۱۳). د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر میاشت کې، ملګرو ملتونو په خپله عمومي غونډه کې " د لوږې پای" او " له بې وزلۍ خلاصون" دوو اړینو موخو په توګه اعلان کړې چې د تل پاتې پراختیا اولسګونو موخو په چوکاټ په لومړي سر کې راغلي چې باید تر ۲۰۳۰ پورې ترلاسه شي.(۱۴) همدا شان د خوړو خوندیتوب د تل پاتې پراختیا له نور ټولو موخو سره په غیر مستقیمه توکه اړیکه لری. په حقیقت کې، د خوړو خوندیتوب د پراختیایي پالیسیو اصلي هدف او په ټولنه کې د خلکو د روغتیا د برابرولو لپاره یو له ډېرو مهمو محورونو

څخه شمېرل کيږي، او اهميت يې دومره زيات دی چې ځينې څېړونکي او کارپوهان په يوه هيواد کې بشري پرمختګ د خوراکي توکو اوږدمهاله شتون او خونديتوب پورې تړلی ګڼي(١۵). پوره او ښه خوړو او روغتيايي آسانتياوو ته لاسرسی د هرې ټولنې د پرمختګ او روغتيا يو له اصلي محورونو څخه دی؛ له همدې امله، د هر هيواد د پراختيايي اهدافو په لومړيتوبونو کې، د خوړو خونديتوب ته رسيدنه ځانګړی اهميت لري. د تغذيې او اقتصادي پراختيا ترمنځ اړيکه په پراخه نړيواله څېړنه کې ثابته شوې ده. د خوړو خونديتوب د يوې پرمختللې ټولنې بنسټ دی(١۵).

د خوړ نه خونديتوب هغه مسله ده چې د هغې بدې پايلې به په مستقيم يا غير مستقيم ډول د يو هيواد په ټولنه او وګرو اغيزې وکړي او د دې لويې ستونزې فزيکي، رواني، روحي ، اقتصادي او ټولنيزې پايلې ټول وګري اغېزمن کړي. د خوړ نه خونديتوب د هراړخيز او دوامدار پرمختګ په وړاندې يو له مهمو خنډونو څخه دی چې وګړوته ويجاړونکې فزيکي، ذهني او ټولنيزې اغيزې لري راوباسی او د هوساينې لپاره ګواښ بلل کېږي. د خوړو نه خونديتوب نه يوازې دا چې په تغذيې او فزيکي روغتيا اغيزه کوي، بلکې د يو شخص رواني روغتيا هم اغيزمنه کولی شي. د خوراکي توکو ناامني د سوکالۍ او پرمختګ پر وړاندې لوی خنډ دی او که په جدي ډول ورته پام ونه شي، نو پرته له شکه چې په دې برخه کې به انسانيت يوه ناڅرګنده راتلونکې ولري(١٦).

د خوړو نه خونديتوب او خوارځواکۍ د خلکو د مهارتونو د پراختيا او د توليداتو کمولو لامل ګرزی او په اوږدمهال کې په تدريجي ډول له مهمو وړتياوو بې برخې کيږي او نشي کولای په تعليم، توليد او اقتصاد کې برخه واخلي، له همدې امله پوره خوراکي توکو او تغذيې ته لاس رسی تر ټولو مهمو لومړيتوبونو څخه بلل کېږي.

**افغانستان کې د خوړو خونديتوب چمتو کول**

په ټوله کې، د هيوادونو لپاره د خوړو خونديتوب چمتو کول په دوو لارو ترلاسه کيدی شي؛ په لومړۍ طريقه کې هڅه کيږي چې په کرنيزو محصولاتو کې په ځان بسيا شي او د خپلو ځمکو له سرچينو څخه کورني اړتياوې د توليداتو د زياتوالي سره پوره کړي او په دويمه طريقه کې د خوراکي توکو له وارداتو څخه د اړتياو پاتې برخه چمتو کوي(١٧).

د اوسنيو اټکلونو له مخې، په پرمخ ودي هيوادونو کې د خوراکي توکو توليدات بايد په راتلونکو پنځه ويشت کلونو کې په دې هيوادينوکې اوسني توليد په پرتله ٧٠ سلنه زيات شي، ترڅو د دغو هېوادونو د مخ پر زياتېدونکې نفوس د اړتياوو پوره کړي(١٨). کورني توليد د خوړو د خونديتوب فرصت برابروی او خوراکي توکو ته لاسرسی اسانه کوي، د خوړو د خونديتوب ترلاسه کولو لپار هېوادونه د خپلو ځمکو د توليد ظرفيت لوړوي او لوړ حاصل لرونکی کرنيز تخمونو بزګرانو ته چمتو کوي د خاورې او اوبو د مديريت ميتودونو کاروي چې د کورني توليداتو د زياتوالی اصلی لامل ګڼل کېږي(١٩). په افغانستان


کې، د کرنې سکتور د اقتصادي ودې او لومړني محرك په توګه کار کوي او نورو اقتصادي سکتورونو سره قوي اړیکې لري ځکه دا د یو هیواد په اقتصاد کې د پرختیا انجن بلل کېږي (۲۰). په دې هیواد کې د خوړو خوندیتوب د کلیو پراختیا او کرنې پراختیا په برخه کې یو له مهمو مسلو څخه شمېرل کېږي چې په ټولیز ډول کرنې ته تړلئ دی. د کرنې سکتور په مستقیمه توګه د تولیداتو په زیاتوالي کې او صادراتو له لارې او په غیر مستقیم ډول په کلیوالو ټولنو کې د خدماتو او صنعتي توکو د تقاضا د زیاتولو او د هیواد د خوړو خوندیتوب ته وده ورکولو له لارې اقتصادي وده کې ډېره مرسته کوي. نو ځکه د خوړو خوندیتوب مسله په افغانستان کې په مستقیم ډول د کرنې تولید او د خوړو صنعت سره تړاو لري(۲۰). کرنه په افغانستان کې د خوراکي توکو د تولید یا عرضې اصلي او مهمه سرچینه ده. د کرنې د سکتور پرمختګ په افغانستان کې د بې وزلۍ له منځه وړلو، د سوکالۍ د زیاتوالي او د خوړو خوندیتوب ډاډمن کولو لپاره یو له خورا ارزښناکه وسیلو څخه دی(۲۱).

د خوړو خوندیتوب یو له شاخصونو څخه په وارداتو باندې تکیه والی دی(٦). د وارداتو او صادراتو بهیر په افغانستان کې د خوراکي توکو په ویش کې خورا اغیزمنه ده او کولی شي د خوړو خوندیتوب او د ټولنې جوړښت باندې ډېر اثر باسي(۲۲). هغه هیوادونه چې ډېری په وارداتو باندې متکي دی د هیوا د خوړو خوندیتوب لپاره خپل بهرنیو اړیکو له مخې بېلابېلې تګلارې غوره کوي. افغانستان له ډېرې مودې څخه د خوراکي توکو په وارداتو تکیه هیواد و؛ هیڅ کله افغانستان خپل په کورني تولیداتو باندې خپل خوراکي اړتیاوې ندي پوره کړي او په ځان بسیا شوی ندی په ځانګړې توګه د غلو دانو په برخه کې په اوس وخت کې افغانستان نیژدې ۴۳ سلنه خپل خوراکي توکې له بهره واردوی(۲۳).

**د افغانستان خوراکي توکو مصرف(غلې دانې)**

کورني تولیدات او واردات دواړه یوځای کېږي دیو هیواد ټول خوارکي مصرف را جوړوی. افغانستان په جنوبي آسیا کې د غنمو په تولید کې درېیم مخکښ هېواد دی. د غنمو د کر ساحه تقریبا د ۲,۷ څخه تر ۳ ملیون هکتاره د کرنې وړ ځمکې، یا د ټولټال شاوخوا ٪۸۰ د کښت ساحه په افغانستان کې ځانته کړې ده. په ۲۰۰۱ کال کې په افغانستان کې د غنمو ټول مصرف ۲۷۴۷ زره ټنه و چې په ۲۰۲۰ کال کې ۷۵۷۷,۵ ټنو ته ورسېد. مصرف په کال کې ۵,۲ سلنه وده کړې. د تولید د ودې کچه د کلني مصرف له ودې کچې څخه لوړه وه. د ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۰ پورې د مصرف وده د تولید له ودې څخه ورو وه. لکین په دوهمه لسیزه کې د تولید ودې کچه ۱,۳۵ سلنې او برعکس د مصرف ودې کچه ۳,۰۸ سلنې ته ورسیده چې د مصرف کچه دوه برابره زیاته ده(انځور۲). سره له دې ټولو غلو دانو (غنم، جوار، وریجې او وربشو) ته په تېرو شلو کلونو کې تقاضا ډېره شوې، لېکن غنمو ته تقاضا په ډېر شدید ډول لوړه شوې ده. غنم د غلو ټول تولید د ٪۷۰ برخه په هیواد کې پوښي. د غنمو ټول تولید شاوخوا ۵ ملیون ټنو ته رسیږي. د افغانستان د غنمو حاصلات کم دي، په عمده توګه د للمي کښت سیستم له امله . د خوراکي توکو د تولید فزیکي ډول په ملي کچه د بېلابېلو لاملونو له مخې ټاکل کیږي

لکه د خوراکي محصولاتو لپاره کرل شوې ساحه، د خاورې حاصلات او اقلیم، د ټیکنالوژۍ شتون او د توکو کارول لکه د لوړ کیفیت لرونکي تخم، سرې، کارګر او میخانیکي وسایل.




دویم انځور: په افغانستان کې د مهمو غلودانو مصرف (اړتیا)


## کورني تولیدات

د خوړو تولید د نړدې ټولو هیوادونو لپاره د ملي خوړو خوندیتوب کې خورا مهمه برخه ده. د کورني خوراکي توکو تولید، په ځانګړي توګه د عمده خوراکي محصولاتو تولید لکه غنم او وریجې کروندګرو او وګړو لپاره د خوړو د لاسرسی بنسټ جوړوي. د افغانستان کرنې سکتور چې د خوړوخوندیتو لومړنی سکتور دی له جګړو له امله سخت زیان من شوی و او مهمو تولیدات کچه یی ډېره را ټیټه شوې د غلو دانو د تولید کچه زیاته لوېدلې وه چې تېرو دوه لسیزو کې ښېرته وده وکړه. په داسې حال کې چې د افغانستان د غلو دانو تولید، په ځانګړي توګه غنم، له ۲۰۰۱ کال راهیسې په ډراماتیک ډول زیات شوی دی . افغانستان په ۲۰۰۱ کال کې ۱۵۹۷ زره ټنه غنم تولید درلود چې په تدریجي ډول د غنمو د تولید کچه ډېره شوه په کال ۲۰۲۰ کې ټول د غنمو تولید ۵۱۸۵ زره ټنوته لوړه سوه، چې په منځنۍ ډول په کلنۍ کچه ۶,۴ سلنه وده یی کړې ده. په تېرو دوو لسیزو کې د غنمو په حاصلاتو کې په ټولیز ډول له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۲۰ پورې ۱۹۳ سلنه زیاتوالی راغلی دی(انځور ۳).

ډیر ټینګار د خوړو په برخه کې باید د کورنیو تولید له لارې وشي، ځکه، که چیرې وارداتي خوړو چینلونه او سوداګر ښه عمل او زېربناوو ته اړتیا لري، په افغانستان مهمو بنسټونو په کافي اندازه وده نده کړې او ټرانسپورټي خدمتونه لږ دي، نو کیدای شي په کور دننه تولید شوي خوراکي توکو بیه لوړه شي او خوراکي

توکو ته لاسرسی په کلیوالي سیمو کې کورني تولیداتو ته په پام سره اغیزمن شی، په ځانګړې توګه د بې وزلو لپاره) .۲۰.(

ځیني اقتصاد پوهان استدلال کوي چې د خوړو ځان بسیا کول تل ترټولو اغیزمنه لاره نه ده. ځیني وختونه، په ځایی توګه د خوړو کښت کول خوراګران وی او د بل ځای څخه لیږدول ښه بللی کیږی (۲۴). په دې صورت که غیر خوراکي محصولاتو په بدیل سره په محلي توګه تولیدېږی. او ترلاسه شوي عاید د غیر خوراکي محصولاتو د پلور له لارې ممکن بهرني اسعار رامنځته کړي چې بزګران وربانديې ډېر خواړه واخلي. په دې حالت کې، د غیر خوراکي تولیداتو د زیاتوالي له لارې، د خوراکي توکو کسر به کم شي او د خوړو خوندیتوب به د خوراکي توکو د تولید او کورني اکمالاتو د زیاتوالي پر ځای، خوړو ته د لاسرسي د زیاتوالي له لارې ښه شي (۲۵).





درېم انځور: د مهمو غلو دانو کورني تولیدات

**واردات**

افغانستان په ۲۰۰۲ کالی کې ټول ټال ۹۵٦ زره ټنه غنم واردول چې تر ۲۰۲۰ کال پوری دغه کچه ۲۳۹۲ زه ټنو ته لوره شوه. په عموم کې د افغانستان د غنمو واردات او ورسره نورې غلې دانې په وروستیو دوو لسیزو کې په بیساری توګه زیاته شوې ده. وربشې او جوار چې افغانستان هیڅکله نه واردلو او د کورني تولیداتو به تقاضا پوره کوله لیکن دې دوو ورستیو لسیزو کې افغانستان ورو ورو د وربشو او جوارو وارداتو ته اړ شو د وخت په تېرېدلو د دوی وارادت لوړ شول. نو ویلی شو چې د غلو دانو واردات په تیرو دوو لسیزو کې زیات شوي دي، په ټولیزه توګه د غلو دانو د وارداتو د ودې منځنی کلنی کچه ۴,۷ سلنه وده کړې ده. غنم ترټولو مهم خوراکي توکي دي چې د ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۲۰ کلونو پورې

د وارداتو منځنۍ کلنۍ ودې کچه ۴,۹ سلنه وه. سره له دې چې د غنمو غلې او اوړه واردات په افغانستان کې هر کال توپیر لري، مګر بیا هم د غنمو غلې او اوړه واردات په ۲۰۰۲ کې په سلو کې ۲٦,۲ و او تر ۲۰۲۰ پورې ۳۱,٦ سلنې ته لوړ شوي ده. نابېره وچکالیانې او د اوبو کمښت د غنمو او نورو غلو په وارداتو کې د نوساناتو لامل بلل کېږي. به ۲۰۲۲ کال کې د وچکالۍ له امله د غلو د وارداتو اړتیاوې، په ځانګړې توګه د غنمو او غنمو اوړه په منځنۍ کچه ۳,۴ ملیون ټنه، د تیر کال په پرتله ۲۰ سلنه ډېر شوه. همدارنګه په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو کې د سختې وچکالۍ له امله د غنمو واردات زښت ډېر شوي وو (انځور۴).

که چیرې یو هیواد د تولید کسر ولري او د کورني خوراکي توکو مصرف بشپړولو لپاره په وارداتو تکیه وکړي، نو په ټولیزه توګه د هیواد لپاره کافي خوراکي توکو ته لاسرسی د بهرني اسعارو تبادله شتون له مخې ټاکل کیږي چې د اړینو خوراکي توکو واردولو لپاره تادیه شي. افغانستان په نړۍ کې د بهرنیو اسعارو تر ټولو لږې زیرمې لري، نو د نړۍ په بازارونو کې د اړتیا وړ غنمو د اخیستلو لږ توان لري. افغانستان چې ډیرو بې وزلو هیوادونو کې رازی په وارداتو باندې ډېره تکیه کولی شي د نړۍ د غنمو د بیې د لوړوالی په صورت کې ډېر سخت زیان مومي و د خوړو له جدي کمښت سره مخ شي. نو ځکه په کورنۍ تولید و ځان بسیاینه ډېر ټینګار وشی. د غنمو د اوړو او غلو د اکمالاتو لپاره پر وارداتو ډېر تکیه افغانستان د صادرونکو هیوادونو او په ځانګړې توګه د غلو دانو د سوداګرۍ د پالیسیو په وړاندې چې په لویه کچه د حاصلاتو د خرابیدو او یا د حاصلاتو د خرابیدو په صورت کې نا مناسبه او محدوده کېږي، زیانمنونکی کوي. د غنمو په کورنیو تولید په صورت کې د ځان بسیا کیدو ته رسېدل به د ملي امنیت د پیاوړتیا په څیر د خوراکي خوندیتوب د پیاوړتیا مهم لامل شی. په هیواد کې د خوراکي توکو د کورني تولید د هڅولو لپاره ډیرې ښې زیرمې شتون لري.





څلورمانځور: د مهمو غلو دانو وارداتو وضعیت

**په افغانستان کې د خوړو بسیاینې کچه**

د خوړو ځان بسیایې مفهوم په عموم کې دا معنی لری چې یو هیواد وکولی شي خپل خوراکي اړتیاوې د خپل کورني تولید څخه پوره کړي. کله کله داسې انګیرل کیږي چې د یو هیواد د خوراکي خوندیتوب کچې د لوړولو لپاره ترټولو غوره لاره دا ده چې د خپل ځان بسیا کچه لوړه کړي، او دا مفکوره یو ځانګړي اهمیت لري(۲٦). د خوراکي توکو د ځان بسیاینې (خودکفایی) کچه یو شاخص دی چې ښیي چې په افغانستان کې د خوراکي توکو د عرضې څومره سلنه په کور دننه تولیدیږي(۲۷). ځان بسیاینه معمولاً د ځان بسیاینې تناسب په مرسته اندازه یا ټاکل کیږي. چې د ټول هیواد مصرف وړ خوړو هغه برخه ده چې یو هیواد په کور دننه تولیدېږی. د خوراکي توکو خالص واردونکي هیوادونه د دې مقیاس پربنسټ په ځان بسیا نه ګڼل کیږي. هغه هیوادونه چې د خوراکي ځان بسیاینه کې لوړ مقام لری، زیات تولید او کلیوالي خلکك یی لوېې ځمکې او ساحې خاوندان دی او پرمختللي کرنه لري، چې د خوراکي توکو اضافي تولیدات برابروی. له بلې خوا، کوچني او ډیر ښاري هیوادونه شتون لري چې د ټولنیز سیاسي ګډوډی او همدارنګه د چاپیریال ناورین ته خورا زیان منونکي دي چې د کرنې وړ ځمکې محدودیت او د خالص خوراکي کمښت سره مخ دي او خوراکي ځان بسیاینه کې پاتې راغلی دی لکه زموږ هیواد افغانستان. د ځان بسیاینې تناسب مقیاس په مهمو خوراکی نباتاتو باندې، لکه غلې دانې، حبوباتو او تیوبر تمرکز کوي، چې په دې توګه د یو هیواد د خوراکي توکو ځان بسیا کیدو اټکل وړاندې کېږي. په ځان بسیاینه کي شاخص له مخې کله چې د خوړو د اړتیاوو پوره

کولو لپاره د غذایي موادو ۲۵٪ څخه زیات له وارداتو څخه برابر شي د خوراکي نه خوندیتوب سره مخامخ وي. د خوړو ځان بسیاینه د خوړو د شتون لپاره یو کلیدي شاخص شو، د خوړو د خوندیتوب یو بنسټیز ستنه، سره له دې چې پیاوړي اقتصاد پوهانو استدلال کوي چې په ځان بسیا باندې تمرکز کولی شي د خوړو خوندیتوب تهدید کړي څکه چې دا د نړیوالې سوداګرۍ له ګټو هیواد جلا ساتی او په سوداګرۍ اغېزه کموی(۲۸).




پنځم انځور: خوړو ځان بسیاینې ځرنګوالی د مهمو خوړو غلو دانو په برخه کې

د خوړو ځان بسیاینې وضعیت ښیي چې دا شاخص مخ په زوړ لوېږي. خو د لومړۍ لسیزې په پیل کې کله چې افغانستان کې د غنمو تو لید کچه ټیټه وه نو د ځان بسیاینې وضعیت یې هم ټیټ و لیکن جمهوری دولت په ټینګېدو او د نړیوالو هیوادنود د مرستو په زیاتېدو سره د غنمو د ځان بسیاینې کچه له ۵۸,۱۴ څخه په ۲۰۰۱ کال کې ۸۳,۲۵ ټنو ته لوړېږی. سره له دې چې  ځان بسیاینې کچه په راتلوکو کلو کې هم متغیر او نوسانات لري، خو په ټوله لکه د وارداتو له زیاتوالی له امله له دوهمې لسیزې له نمایي څخه د ځان بسیاینې کچه لوېدلې ده او یو نزولي حالت را بربنډوی. همدا شان د وریجو د ځان بسیاینې کچه هم د وارداتو د زیاتوالی له امله په پرلپسې توګه را لوېدلې ده. د جوارو او وربشو حالت ښیي چې دوه لسیزې وړاندې اصلاً افغانستان د خپله په کورني تولید تړلی وه لیکن ورو ورو د دوی واردات هم د غښتې ډېرېدو او د تولیداتو د کمېدو له امله زیاتېږي او ځان بسیاینې وضعیت یې ټیټ کېږي (انځور۵).

## د خوراکي توکو مرستې

د خوراکي توکو مرستې د بهرنیو مرستندویه ادارو او هیوادونو له خوا د خوړو خوندیتوب لپاره کېږی. د خوراکي مرستو لومړنی دنده د خوراکي توکو د ناامنی له منځه وړل دي چې د لنډمهاله یا ساختماني خوراکي کمښت له امله رامنځته کیږي. د خوراکي مرستو ګټه د خوړو د خوندیتوب ښه والی (د خوراکي توکو شدید کمښت مخنیوی، انتقالي، اوږدمهاله خوراکي ناامني مخنیوی) دې ، او د بهرنیو اسعارو ملاتړ، د بودیجې ملاتړ کوي.

افغانستان چې اوس د خوراکي توکو په مرستو پورې تکیه کوی د خوړو خوندیتوب وضعیت په ګڼو برخو کې د خوراکي توکو د مرستو د کموالي له امله سخت اغیزمن کېږي، ځکه خوراکی مرستې لنډ مهاله او بی ثباته سرچینې دی. د خوراکي توکو د مرستو د کمښت جبرانول به افغانستان ته ډېر ستونزمن وي، که چېرې دا مرستې بندې شي سوداګریز واردات باید ډېر شي چې د بیې لوړوالي لامل کېږی، د تادیاتو توازن په هیواد کې خرابېږی او د خوراکي توکو رسول کمېږی او د بازار د بیو لوړیدو لامل ګرزی، چې افغانستان په شان بېوزله هیواد ته ډیر زیان منونکی وي. سربیره پردې، د ځانګړو ډلو څخه لږ ملاتړ کېږی او لږ خواړه ورته رسېږی. له بلې خوا، خوراکی توکو مرستې د خوراکي توکو تولید بې ثباته کوی چې له امله یې د خوراکي توکو تولید او صادرات کمېږی.

افغانستان په تېرو دوه کلونو کې بشري مرستې تر لاسه کړي چې د نړوالو ادارو او سازمانونه( خوړو نړیوال پروګرام، د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان ...) له خوا اړمنو خلکو ته د خوراکی توکو په شکل رسول شوي دي. په ۲۰۲۲ کال کې افغانستان ته ۳،۰۳ ملیارد دالره مسرتې شوي دي چې له دې برخې څخه ۱،۱ ملیارد دالر چې ۳۷ سلنه د ټولو مرستو برخه کېږي د خوړو خوندیتوب لپاره لګول شوي دي، همدا شان ۲۰۹ ملیون دالره د تغذیې په برخه کې لګول شوي دي چې ۷ سلنه د مرستو برخه جوړی، په دې توګه ټولې مرستې چې په ۲۰۲۲ کال کې افغانستان ته رسېدلي دي ۴۴ سلنه یی د خوړو او تغذیې په برخه کې مصرف شوي دي. د نړیوالو مرستو ډېره برخه چې په افغانستان کې د خوړو خوندیتو په برخه کې مصرف ته رسېدلي په اصل کې یوه لویه پانګه ده چې اقتصادي ګټه یی نده درلودلې. په دې کچه مالی سرچینې که چېرې د کرنې په برخه کې چې د خوړو لومړنۍ اصلی ګټل ګېږی مصرف شوی وی نو هم بخواړ تولید شوی وی او هم به کاری فرصتونه پیداشوی وی(۲۹).

## پایلې او مناقشه

په افغانستان کې د نفوس د زیاتوالي او ښاري کیدو له امله د خوراکي توکو غښتنه د کورني تولید په پرتله په چټکۍ سره زیاتیږي . د خوراکي توکو برابرول د باثباته کورني تولید او د وارداتو په مټ تحقق مومی. کورني تولید او د خوراکي توکو واردات په ملي کچه خوراکي توکو ته د لاسرسي لامل ګرځي، له بلې خوا، اقتصادي وده هم د کارموندنې او عایداتو د رامنځته کولو فرصت برابروی او په پای کې، خوراکي توکو ته لاسرسی اسانه کوي او خوړ خوندیتوب لامل کرزی. د خوراکي توکو د تقاضا د پوره کولو لپاره، د خوراکي توکو کورنۍ عرضه باید زیاته شي، په ځانګړې توګه د غلودانو او مالدارې حاصلات. په

افغانستان کې غلې، په ځانګړې توګه غنم ستراتیژیک محصول حیثیت لري د خوړو د خوندیتوب په برخه کې په تیرو دوو لسیزو کې، د افغان د معیشت اصلي ستراتیژي د خړوب شویو ځمکو د پراخولو او د ځمکې د حاصلاتو د ښه کولو له لارې د غنمو په ځان بسیا کیدو ته چمتو شوې وه. د کرنیزو محصولاتو زیاتوالی او د کرنې عاید زیاتوالي با ندې تمرکز افغانستان به د خوړو ځان بسیایی ته نژدې کوي. سره له دې چې کورني تولیدات زیات شوی، خو د ځان بسیاینې کچه لوېدلې ده او یو نزولي حالت یې ښودلی اصلي لامل یې د وارداتو زیاتوالی دی به ځانګړې توګه له دوهمې لسیزې له نیمایي څخه ورسته، چې دا وضعیت د افغانستان د خوړو خوندیتوب ننګوی. د خوراکي خوندیتوب ترلاسه کول د غنمو د تولید لپاره د ځمکې او اوبو د سرچینو په اغیزمنه کارونې پورې تړلي دي، مګر ډیری بزګرانو لاسرسی دغه زېرمو ته محدود ده. ډیری، افغان کروندګر ډیره لږه ځمکه لري، نو کروندګر به دغلودانو په برخه کې او یا هر ډول خوراکي توکو کې حتی په ښه کلونو کې هم په ځان بسیا ندي. افغانستان د خپلو کورني تولیداتو د زیاتولو په برخه کې د ظرفیت او منابعو د نشتوالي له امله په ځان بسیا نه شي. افغانستان چې له ډېرو بې وزلو هیوادونو دی او په نړۍ کې د بهرنیو اسعارو تر ټولو لږې زېرمې لري، نو ځکه په کورنی تولیداتو او ځان بسیاینه ډېر ټینګار وشی او د کورنې تولیداتو کچه باید لوړه شي. محدوده ځمکه او منابع اوس د اقلیم د بدلون سره مخ دي، چې په حاصلاتو اغیزه کوي. د اقلیم بدلون احتمال لري په پراخه کچه هغه خلک اغیزمن کړي چې په کرهنې پورې تړلي دي او د افغانستان کورنی تولیدات لاپسې نور هم کم کړي.

**وړاندیز**

د اقتصادي پرمختګ له نظره، طبیعي زېرمې(اوبه او خاوره) د افغانستان په ودې او پرمختګ په بهیر کې مهم او اساسي دنده لري او د خوړو خوندیتوب لومړنې عامل ګڼل کېږي. افغانستان کې کرنه د پرمختللو هیوادون په شان، د ټولنې د خوراکي خوندیتوب لپاره، اړتیا شته چې له دودیز تولید مرحلې څخه صنعتي او سوداګریز تولید مرحلې ته لاړه شیاو نوې ټیکنالوژۍ کارونه زیاته شي، د لوړ حاصل لرونکو کرنیزو تخمونو د چمتو کولو او د خاورې او اوبو د مدیریت مېتودونو په کارولو سره په کرنیزو ځمکو کې د حاصلاتو زیاتوالی او په هر هکتار کې حاصلات ډېروي چې په پایله کې خوړو خوندیتوب رامنځ ته کېږي. د ځمکې او اوبو د سرچینو د اغیزمنه کارونې او مدیریت له لارې کورنی تولیدات زیات شي تر څو ځان بسیاینې ته ورسېږي. همدارنګه د حکومت په پیاوړتیا باید ټینګار وشي قوي پالیسی باید جوړې شي چې د تولید سکتور د پیاوړتیا ترڅنګ ننګونکې پدیدې او اقلیمي فکتورونو اغېزې لکه وچکالی، سیلابونه، د ځمکې تخریب، آفتونه او ناروغۍ مدیریت شي. جنګ، شخړې او ناامني باید پای ته ورسېږي او کاري فرصتونه باید وګړو ته برابر شي تر څو د خوړ خوندیتوب ټینګښت و مومي.

بشري مرستې چې د نړیوالې ادارې او سازمانونه اوس مهال په افغانستان کې لګوي باید د افغانستان مالې وزارت ته وسپارل شي تر څو مالي سرچینې د افغانستان د دولت له لارې هغو سکتوري اداراتو له لارې مصرف ته ورسېږي چې اقتصادي وده رامنځ ته کوي او د خوړو خودندیتوب ډامن کړي.

**سرچینی**

1. FAO. The state of food insecurity in the world 2014. Strengthening the enabling environment for food security and nutrition.Food and Agriculture Organization. 2014; http://www.fao.org/3/a-i4030e.pdf
2. Poole, N., Sharma, R., Nemat, O. A., Trenchard, R., Scanlon, A., Davy, C., Ataei, N., Donovan, J., & Bentley, A. R. Sowing the wheat seeds of Afghanistan's future. Plants, People, Planet, 2022 ; 4(5), 423–431. https://doi.org/ 10.1002/ppp3.10277
3. WFP. Food assistance for assets: Building climate resilience and enhancing livelihoods opportunities in Badakhshan, Afghanistan. Rome, United Nations World Food Programme. 2020) ; https://docs.wfp.org/api/documents/WFP-0000123234/
4. Nkunzimana, T., Custodio, E., Thomas, A. C., Tefera, N., Perez Hoyos, A., & Kayitakire, F. Global analysis of food and nutrition security situation in food crisis hotspots; 2016 ; EUR 27879. https://doi.org/10.2788/669159
5. Hu Q and Han Z. Northward expansion of desert climate in Central Asia in recent decades. *Geophysical Research Letters,* 2022 ; *49,* e2022GL098895.https://doi.org/10.1029/2022GL098895.
6. Ho CH, Lur HS, Yao MH , and et al. The impact on food security and future adaptation under climate variation: a case study of Taiwan’s agriculture and fisheries. *Mitigation and Adaptation Strategies for Global Change,* 2017 ; *23(3), 311–347.* doi:10.1007/s11027-017-9742-3.
7. FAO. FAO and the World Bank step up their response to the worsening food security. 2022 ; https://www.fao .org/newsroom/detail/afghanistan-fao-and-the-world-bank-step-up-their-response-to-the-worsening-food-security/en
8. Sayed N and Sadat SH. Climate Change Compounds Long standing Displacement in Afghanistan. 2022; *Reliefweb.int.*
9. OCHA. Asia and the Pacific: Weekly Regional Humanitarian Snapshot. 2022 ; https://reliefweb.int/report/ afghanistan/asia-and-pacific-weekly-regional-humanitarian-snapshot-3-9-may-2022.
10. United Nations. Afghanistan: Nearly 20 million going hungry. UN News. 2022 ; https://news.un.org /en/story/ 2022/05/1117812
11. IPC. Afghanistan: Integrated Food Security Phase Classification Snapshot. 2022 ; March - November 2022. https://www.ipcinfo.org/ipc-country-analysis/details-map/es/c/1155595/?iso3=AFG.
12. US Department of Agriculture. *Definitions of food security*. USDA. 2019 ; https://www.ers.usda.gov/ topicsfood-nutrition-assistance/food-security-in-theus/definitions-of-food-security.aspx
13. FAO. Tracking progress on food and agriculture-related SDG indicators. 2020 ; FAO, Rome.
14. UN. Transforming Our World: The 2030 Agenda for Sustainable Development. 2015.
15. SDG Report, 2020. www.un.org/sustainabledevelopment/progressreport/.2020
16. IFAD,. The fisheries and aquaculture advantage. Fostering Food Security and Nutrition, Increasing Incomes and Empowerment. Rome. 2019
17. FAO. Soils Store and Filter Water - Improving Food Security and Our Resilience to Floods and Droughts. 2015 ; http://www.fao.org/ documents/card/en/c/ab8d051e-af46-430c-9fa1-616e1347cba6/

18. World Bank,. Enabling the Business in Agriculture. 2019 ; Washington, DC.
19. Tahir, I. S. A., Mustafa, H. M., Idris, A. A. M., Elhashimi, A. M. A., Hassan, M. K., Fadul, E. M., Kurmut, A. M. A., Eltayeb, S. M., Meheesi, S., Hassan, A. O., Abdalla, O. S., & Assefa, S. Enhancing wheat production and food security in Sudan through scaling up improved technologies using innovation platforms. International Journal of Agricultural Sustainability, 2020 ; 18(4), 376–388. https://doi.org/ 10.1080/14735903.2020.1787639
20. MAIL. National wheat policy. Kabul, Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock (MAIL), Islamic Republic of Afghanistan. 2013 ; http://extwprlegs1.fao.org/docs/pdf/afg189837.pdf
21. Bolton, L. Agriculture in Afghanistan – Economic sustainability and sub-sector viability. K4D Helpdesk Report 574. Brighton, UK, Institute of Development Studies. 2019 https://assets.publishing.service.gov.uk/ media/ 5d1 0b7fbe5274a0694afe5f5/574576Agriculture_in_Afghanistan.pdf
22. Clapp J. Food self-sufficiency: Making sense of it, and when it makes sense. *Food policy*.2017 ; 66: 88-96.
23. Shrestha RP. Land degradation in Afghanistan. *Asian Institute of Tech.* 2007 doi 10.13140/RG.2.2.19592.06400.
24. FAO Afghanistan: FAO and the World Bank step up their response to the worsening food security. 2021
25. Poole N, Echavez C and Rowland D. Are agriculture and nutrition policies and practice coherent? Stakeholder evidence from Afghanistan. *Food Security*. 2018 ; doi:10.1007/s12571-018-0851 y.
26. Enriquez JP. Food Self- Sufficiency: Opportunities and Challenges for the Current Food System. *Biomed J Sci & Tech Res*. 2020 ; 31(2)- BJSTR. MS.ID.005061.
27. FSIN. Global Report on Food Crises. Food Security Information Network Rome. Forman, R.T.T., Gordon, M., 1986. Landscape Ecology. 2019 ; *Wiley*, New York.
28. Naylor R L, Falcon W P. Food security in an era of economic volatility. *Population and development review*. 2010 ; 36(4): 693-723.
29. UNOCH 2022 Afghanistan Emergency Response Plan. 2022